


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲۵ | مسلسل نمبر: ۶۷

شنبه، د ربیع الثاني ۲مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## د اوبلن ګاز د تأسیساتو جوړولو کړنلارې او د کانونو سکتور د عوایدو پالیسۍ ته د تایید نظر ورکړل شو



۲ صفحه

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لورې د شاوخوا ۱۲ میلیاردو افغانیو پانګونې په ارزښت مختلفې طرحې تایید شوې



۲ مه صفحه

## په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د کورني ناخالص تولید ارزښت ته کتنه



۴ مه صفحه




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا لس میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۲ پروژو قراردادونه منظور او د ۱۵ هغو تعدیل کړل. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کندهار، زابل او نیمروز ولایتونو د پوهنتونونو د لیلیو د ودانیو پاتې چارې بشپړول، د کندهار ولایت د احمدشاه بابا نړیوال هوایي ډګر بیارغونه، په بادغیس ولایت کې د قیصار – لامان ۲۵ کیلومتره سړک د پاتې چارو اساسي جوړونه، د حیرتان – مزار شریف اوسپنې پټلۍ د ریلي او غیر ریلي تاسیساتو بیارغونه، د کابل ښار ځینې داخلي سړکونه او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

د ملي تدارکاتو کمیسیون په غونډه کې یوه مهمه پروژه د کندهار د احمد شاه بابا نړیوال هوایي ډګر رغونه ده. موږ او تاسو پر دې پوهېږو چې هوایي ترانسپورټ په نړۍ کې د ترانسپورټ په سکتور کې ډېر مهم دی. له دې لارې په ورځني ډول سلګونه کسان او په سلګونو ټنه سوداګریز توکي له یوه ځای څخه بل ځای ته لېږدول کېږي. هوایي ترانسپورټ د یوه هېواد د صنعت او سوداګرۍ په پراختیا او په پای کې د هېواد د ملي اقتصاد په وده او پرمختګ کې مهم رول لري. د هېواد اشغال او جګړو د نورو برخو ترڅنګ هوایي ترانسپورټ چې مهمه برخه یې هوایي ډګرونه دي، زیانمن کړي دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد هوایي ترانسپورټ معیاري کړي؛ نو ځکه یې د هوایي ډګرونو رغونې ته ملا تړلې او د کندهار د احمد شاه بابا نړیوال هوایي ډګر د رغونې پروژه یې ښه مثال دی.

د ملي تدارکاتو کمیسیون په غونډه کې د سړکونو او ریل پټلۍ د تاسیساتو د بیارغونې پروژې منظورې شوې دي. دا دواړه برخې د سوداګرۍ او ترانزیټ د پراختیا له پاره اړینې دي. سوداګري او ترانزیټ په اقتصاد کې یوه مهمه برخه ده او نن ورځ د نړۍ د ګټورو اقتصادي سرچینو څخه بلل کېږي. له دې پلوه ترلاسه شویو عوایدو هېوادونه دې ته هڅولي دي چې په دې برخه کې سیالي وکړي او ددې برخې له پاره ټولې اړینې اسانتیاوې چمتو کړي. د ښاري سړکونو موضوع ځکه مهمه ده چې په ښارونو کې د سړکونو جوړول له یوې خوا د ښاري ګڼې ګوڼې مخه نیسي او له بل لوري ښارونه چې د هېوادونو د سوداګریزو او اقتصای فعالیتونو مرکزونه دي، باید زېربناوې یې جوړې شي. یوه بل مهمه پروژه چې د ملي تدارکاتو په کمېسیون کې تر بحث لاندې نیول شوې هغه د پوهنتونونو د لیلیو د ودانیو پاتې چارې بشپړول دي. هر هېواد هڅه کوي چې خپلې لوړې زده کړې معیاري او د محصلینو له پاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړي.

اسلامي امارت په پورتنیو برخو کې د پرمختګ او په معیاري ډول ددې برخو رغونې ته ژمن دی. ددې برخو په جوړېدو سره به د ځمکني ترانسپورټ ترڅنګ هوایي ترانسپورټ پراختیا ومومي، د خلکو ستونزې به ورسره هوارې شي او له بل لوري به مو لوړې زده کړې معیاري او په مسلکي ډول به کادرونه وروزل شي. په دې سره هم اقتصادي وده ګړندۍ او هم مسلکي بشري قوه زیاته او پیاوړې کېږي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او پـولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

## د اوبلن ګاز د تأسیساتو جوړولو کړنلارې او د کانونو سکټور د عوایدو پالیسی ته د تایید نظر ورکړل شو



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه مانۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د اوبلن ګاز د تأسیساتو جوړولو پر کړنلارې، د کانونو سکتور د عوایدو پالیسی پر مســودې او همدا راز یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو.

په غونډه کې تر هر اړخیزې ارزونې وروسته د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظـر کې نیولــو سره د اوبلــن ګاز د تأسیســاتو جوړولو کړنلارې ته د تایید نظر ورکړل شو او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېســیون ته راجع شــوه. د دې کړنلارې له مخې بــه د اوبلــن ګاز توزیع کوونکي ټــول امارتي او خصــوصي شرکتونه د ګازو ذخیرې له ښــارونو او د ګڼې ګوڼې له ځایونو وبــاسي او د دغه کړنلارې مطابق به په ټولو معیارونو برابر نوي تأسیسات جوړوي.

همدارنګه په غونډه کې د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د کانونو ســکتور د عوایدو پالیسی د مسودې په اړه هم بحث وشو. له تفصیلي بحث وروسته د یادې پالیسی په اړه د تایید نظر ورکړل شو او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د شاوخوا ۱۲ میلیاردو افغانیو پانګونې په ارزښت مختلفې طرحې تایید شوې



د افغانستان اســلامي امارت د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيـت تر چتر لاندې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې د فعاليت له پيل بيا تر دې مهاله په مختلفو سکټورونو کې لســګونه د پانګونــې طرحې ارزولې، چې لــه جملې يې يوشــمېر د دغه کمېټــې له لوري تاييــد او د اقتصادي کمېسيون له لوري منظور شوې دي، چې اوسمهال يې عملي کار روان دی.

د کابل ښــار اړوند په کوټه ســنګي ســيمه کې د ملت ســوداګريز مارکېټ جوړول، د هلمند ولايت په لښکرګاه ښــار کې د ســوداګريز مرکز او اســتوګنيزو اپارتمانونو جوړول، د کابــل ولايت اړوند په ختيځــه دروازه کې د بربېنايي دروازو د کمپلکس جوړول، د هېواد په ګمرکي بندرونو کې د الکترونيکي سکنرونو نصب، د هرات ولايت پل هاشمي سب‌سټېشن، له نورالجهاد سب‌سټېشن څخه تر پل هاشمي سب‌سټېشن پورې د ۲۲۰ کيلو ولټ سنګل سرکټ د لين انتقال، په هرات ولايت کې د موبايل سب سټېشن جوړول او د کابل ولايت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲،۷۵ ميګاواټه لمريزي بربښنا توليد هغه پروژې دي، چې د پانګونې بين‌الــوزارتي کمېټې له لوري تر تخنيکي ارزونې وروســته تاييد او د اقتصادي کمېسيون له لوري منظور شوې دي.

پر يــادو پروژو د عامه – خصوصي مشــارکت له لارې د شــاوخوا ۱۲ ميليارده افغانۍ پانګونې کيږي، چې زرګونو کســانو ته يې په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره کړې ده.

# طرح اعمار مارکیت تجارتی

## در شهر کابل مورد تایید قرار گرفت



جلسه‌ی نوبتی کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی که بتاریخ ۱۰م میزان سال ۱۴۰۳ هجری خورشیدی در قصر مرمرین برگذار شده بود، طبق اجندا به جلسه، طرح اعمار مارکیت های تجارتی در ولایت های کابل، سرپل و جوزجان ارایه گردید.

پس از بحث همه جانبه از سوی کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی طرح ساخت مارکیت تجارتی در شهر کابل را مورد تایید قرار گرفت و غرض منظوری به کمیسیون اقتصادی راجع گردید. همچنان برای ارزیابی همه جانبه طرح اعمار مارکیت های تجارتی در ولایت های سرپل و جوزجان کمیته های جداگانه موظف گردید تا پس از ارزیابی گزارش خود را در وقت معین به کمیته بین الوزارتی ارایه نمایند.

---

## کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی

**به ارزش حدود ۱۲ میلیارد افغانی طرح های مختلف سرمایه گذاری**

را تایید نموده است

کمیته سرمایه‌گذاری بین الوزارتی به ارزش حدود ۱۲ میلیارد افغانی طرح های مختلف سرمایه‌گذاری را تایید نموده و پس از منظوری کمیسیون اقتصادی کار عملی آن آغاز گردیده است.

### نوعیت پروژه:



- تمدید لین برای انتقال برق وارداتی و اعمار سب استیشن ها؛
- تولید برق آفتابی؛
- ساخت اپارتمان های رهایشی؛
- اعمار مارکیت های تجارتی؛
- کمپلکس دروازه های الکترونیکی؛
- نصب اسکنر های الکترونیکی در بندر های گمرکی.

### موقعیت پروژه ها



- ولسوالی سروبی ولایت کابل؛
- مناطق مربوط ولایت هرات؛
- منطقه‌ی کوته سنگی شهر کابل؛
- ۱۲ بندر گمرکی کشور؛
- دروازه شرقی شهر کابل؛
- شهر لشکرگاه مرکز ولایت هلمند.

**یادداشت:** همچنان پروژه های سرمایه گذاری در زیربنا، انرژی، زراعت، صنعت و سکتور های مختلف دیگر زیر کار است که در آینده نزدیک کار عملی آن آغاز خواهد شد.

---

در یک سال گذشته

## ارزش افغانی در برابر دالر ۱۴,۵۰ فیصد افزایش یافته است

**عوامل که در ثبات و بلند رفتن ارزش افغانی کمک کرده است:**



- تطبیق سیاست های پولی معقول از سوی د افغانستان بانک؛
- جلوگیری از قاچاق اسعار به خارج از کشور؛
- کاهش مصارف غیر ضروری به سطح دولت؛
- رشد صادرات؛
- ایجاد شفافیت؛
- آغاز پروژه های ملی و منطقوی در کشور؛
- توسعه تجارت با کشورهای جهان؛








# په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د کورني ناخالص تولید ارزښت ته کتنه

لیکوال: نجیب الله مایار

## سریزه

کورني ناخالص تولید د یوه هېواد په اقتصاد کې مهم شاخص بلل کیږي. په اقتصاد کې، اقتصادي شاخص هغه وسیله ده چې د اقتصادي معلوماتو د بدلونونو په کارولو سره د اقتصاد ښه والي او وده اندازه کوي. هغه مهم اقتصادي شاخصونه چې په اقتصاد کې ځانګړی ارزښت لري کولای شوو د مصرفوونکو د نرخ شاخص ، د ناخالص کورني تولید شاخص د ناخالص ملي تولید شاخص، د کارموندنې د نرخ شاخص، او داسې نور یاد کړو. د ذکر شویو شاخصونو په پام کې نیولو سره، په هره اندازه چې په یو هیواد کې د مصرفوونکو له پاره بیې راټیټیږي او ناخالص کورنی او ملي تولید او د کارموندنې کچه لوړیږي، هغه هېواد د اقتصادي ودې په لور درومي.

## کورنی ناخالص تولید

کورنی ناخالص تولید په اقتصاد کې یو مهم شاخص بلل کیږي چې د لاندې دوو مواردو له امله یې اهمیت د پام وړ دی: لومړی دا چې له دغه کلیدي شاخص څخه د اقتصادي فعالیتونو په ارزونه، شننه او تجزیه کې کار اخیستل کیږي. دوهم د ډېرو لویو اقتصادي تغیراتو لکه اقتصادي پړسوب یا انفلاسیون ـ اقتصادي ودې ـ اقتصادي رکود او نورو د محاسبې اساس او بنسټ جوړوي.

## په ۱۴۰۲ کال کې د افغانستان کورنی ناخالص تولید

په افغانستان کې د اسلامي امارت په حاکمیت او د نړیوالو له خوا د هېواد د مالي شتمنیو له کنګل کېدو سره په یوه وخت په افغانستان بېلابېل مالي او اقتصادي بندیزونه ولګېدل، له دې سره په یوه وخت هغه سلګونه پراختیایي پروژې هم ودرول شوې چې د بهرنیو هېوادونو او بنسټونو له خوا تمویلېدې. همدارنګه د کلونو په اوږدو کې دوامداره بې وزلي او د بې‌کارۍ لوړه کچه هغه عوامل وو چې زموږ د هېواد اقتصادي شرایط یې په یوه ډېر حساس حالت کې له ډېر فشار سره مخ کړل. له دې امله مو په ۱۴۰۰ لمریز کال کې تر ۲۰٫۷ سلنې د کورني ناخالص تولید ټیټوالی هم تجربه کړ. اسلامي امارت له دې حالت څخه د هېواد د ایستلو په موخه متې را بډ وهلې او د دغه وضعیت د ښه والي په موخه د بېلابېلو وزارتونو او سکتوري ادارو په کچه یو لړ اقدامات ترسره شول چې له نېکه مرغه ښې پایلې یې درلودې. په ۱۴۰۰ لمریز کال کې د ودې کموالی منفي ۲۰.۷ و، خو په ۱۴۰۱ کال کې دغه اندازه منفي ٦.٢ ته ورسېده. همدا راز په ۱۴۰۱ کال کې څه د پاسه دوه میلیارد ډالرو ته د صادراتو لوړوالی؛ په داسې حال کې چې په ۱۴۰۰ لمریز کال کې دا کچه ۸۵۰ میلیون ډالره وه؛ د اقتصادي وضعیت د بدلون په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي سیاستونو د پلي کېدو او د اړوندو ادارو د مدیریت او ښې پاملرنې لویه بېلګه بللی شو. په هېواد کې د کورنیو تولیداتو څخه په استفادې له تولیدي سکتور او کورني بازار څخه ملاتړ؛ د کارموندنې پر سکتور تمرکز د کورني ناخالص تولید ودې ته ثبات بښل، د امارتي شرکتونو او تصدیو فعالول، د خصوصي سکتور ملاتړ، د صادراتو پراختیا او په سوداګرۍ کې د نسبي کسر کموالی، د ډالر پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ثبات، د اسعارو د قاچاق مخنیوی، د لومړنیو توکو د بیو ټیټوالی، د لویو او نښلوونکو لارو بیارغونه او په بېلابېلو سکتورونو کې د ملي او کارموندنکو پروژو پلي کول د کورني ناخالص تولید په لوړېدو کې اغېزناک عوامل ګڼلای شو. کورنی ناخالص تولید په هېواد کې ټول تولید شوي توکي او خدمات د ورځې په بیه حسابوي چې په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ټولو اندازه څه د پاسه ۱۳۵۷ میلیارده افغانۍ او د سړي سر عاید ۳۸۸۱۳ افغانۍ و. حقیقي کورني ناخالص تولید په هېواد کې ټول توکي او نهایي شوي خدمات په ثابته بیه اندازه کوي چې په ۱۴۰۲ لمریز کال کې څه د پاسه ۱۰٦۱ میلیارده افغانۍ و او د حقیقي کورني ناخالص تولید وده ۲٫۷ سلنه وه.

## د کورني ناخالص تولید شاخصونه

### ۱ ـ کرنه

کرنه، صنعت او خدمات د هېواد په کورني ناخالص تولید کې ډېره ونډه لري، په کورني ناخالص تولید کې د کرنې،

صنايعو او خدماتو ونډه په ترتيب سره ۳۴,۳۲ ، ۱۳,۵۴ او ۴۶,۷۶ سلنه وه. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د کرنې ارزښت څه د پاسه ۴۶۹ ميلیارده افغانۍ شوی دی، په کورني ناخالص توليد کې د دغه سکتور ونډه ۳۴,۳۲ سلنه او وده يې ۲,۱ سلنې ته رسېدلې ده چې د دغه سکتور د ودې اصلي عامل په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د غنمو د توليد ډېروالی ښودل شوی دی. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د هېواد د مستهلکينو د بيو شاخص ښيي چې د تورم کچه ۷,۷- سلنه وه چې ۱۱,۷ سلنه کموالی په خوراکي موادو او ۳,۱ سلنه کموالی په غير خوراکي موادو کې دی. د کرنې په برخه کې شمېرې ښيي چې په ۱۴۰۲ لمريز کال کې ۴,۴ ميليون ټنه غنم توليد شوي چې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله ۴,۴ سلنه زياتوالی لري. د غنمو د توليد د ډېروالی لامل د کرل شوې ځمکې ډېربدل دي. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د هغه ځمکې اندازه ۲,۳ ميليون هکتاړو ته رسيږي چې غلې دانې پرې کرل شوې وې او دې اندازې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله ۷,۲ سلنه ډېروالی موندلی دی.

## ۲ ـ صنعت

کانونه او د هغو استخراج، د فابريکو صنايع، غذايي او غير غذايي توليدات، برېښنا، ګاز ، اوبه او ودانۍ د صنعت په سکتور کې شامل دي . په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د دغه سکتور ارزښت څه د پاسه ۱۸۴ ميلیارده افغانۍ شوی چې په کورني ناخالص توليد کې يې ونډه ۱۳,۵ سلنه او د دغه سکتور وده ۲,٦ سلنه وه. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د دغه سکتور په پرمختګ کې عمده ونډه د برېښنا، ګازو زياتوالی او اوبو مديريت و چې پنځه سلنه و. د دغو برخو کچه ۵ سلنه ښودل شوې ده.

## ۳ ـ کانونه او د هغو استخراج

افغانستان د طبيعي سرچينو د لرلو له کبله يو شتمن هېواد دی، دا زېرمې د طبيعي ګاز، نفتو، ډبرو سکرو، مرمرو، سرو زرو، مسو، کروماېټو، تالک (شوکاڼي)، براېټ، سلفرو، سربو، اوسپنې، د ودانيو ډبرو، مالګې، ګران‌بيه او نيمه ګران بيه ډبرو او نورو نادرو عناصرو دي. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د دې برخې ارزښت څه د پاسه ۳۲ ميلیارده افغانۍ ته رسېږي او په کورني ناخالص توليد کې يې ونډه ۲,۴ سلنه وه. د افغانستان د کانونو زېرمو ډېره برخه تراوسه نه ده استخراج شوې.

## ۴ ـ صنايع

د فابريکو صنايع د هېواد په اقتصادي وده کې ټاکونکی رول لري، هغه هېوادونه چې پرمخ تللې تکنالوژي او په پراخه کچه توليدي صنايع لري اقتصاد يې هم د پام وړ وده کړې ده. په افغانستان کې په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د دې برخې ارزښت څه د پاسه ۱۰۳ ميلیارده افغانۍ و چې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله ۱,۷ سلنه وده ښيي.

## ۵ـ برېښنا، ګاز او اوبه

د کورني ناخالص توليد په برخه کې د نورو برخو ترڅنګ اوبه، برېښنا او ګاز هم د پام وړ رول لري. په افغانستان کې په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د برېښنا، ګاز او اوبو اضافي ارزښت څه د پاسه ۳۷ ميلیارده افغانۍ شوی او په ۱۴۰۲ لمريز کال کې يې په کورني ناخالص توليد کې ونډه ۲,۸ سلنه او د دغه سکتور وده ۵ سلنه وه.

## ٦ ـ ودانۍ

ودانۍ د کورني ناخالص توليد د لوړېدو په برخه کې بله د پام وړ برخه ده چې په هېواد کې په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د ودانيو اضافي ارزښت څه د پاسه ۱۱ ميلیارده افغانۍ شوی چې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله د دغه سکتور وده ۰,۹ - سلنه وه.

## ۷ ـ خدمات

د خدماتو د سکتور ارزښت څه د پاسه ٦۳۲ ميلیارده افغانۍ شوی چې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله يې وده ۲,۳ سلنه وه. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې په کورني ناخالص توليد کې د دغه سکتور ونډه ۴٦,۸ سلنې ته رسېدلې وه. د دغه سکتور د ډېروالي اصلي لامل د عمده او پرچون سوداګرۍ، ترانسپورت، هوټلونو او رستورانتونو کچه په ترتيب سره ۱۷,۹ ، ۵,۹ او ۱,٦ سلنه ښيي.

## هېواد کې د کورني ناخالص توليد د لوړوالي لاملونه

په افغانستان کې شته فرصتونو او ننګونو ته په کتو، د دې هېواد د کورني ناخالص توليد زياتول په يوشمېر مهمو عواملو پورې تړلي دي. لاندې يې هغو مهمو عواملو ته اشاره کوو چې د افغانستان د ناخالص کورني توليد په وده کې مرسته کولی شي:

**۱.د زېربناوو پراختيا:**

په زېربناوو لکه سړکونو، انرژۍ او مخابراتو کې پانګونه کولای شي سوداګري اسانه کړي، بازارونو ته لاسرسی ښه کړي او توليدي وړتيا زياته کړي.

**۲.کرنه او کليوالي پراختيا:**

د افغانستان اقتصاد په کرنه تکيه دی. د کرنيزو چارو ښه کول، بازارونو ته اسانه لاسرسی او د اوبو لګولو په سيستمونو او ټکنالوژۍ کې پانګونه کولای شي د کليوالو خلکو لپاره توليد او عايد لوړ کړي.

**۳.ښوونه او روزنه:**

د ښوونې او مسلکي روزنې ښه کول کولای شي يو مهارت لرونکی کاري ځواک رامنځته کړي، نوښت ته وده ورکړي او په مختلفو سکتورونو کې توليدي وړتيا زياته کړي.

**۴.د اقتصاد تنوع:**

پر کرنه باندې د تکيې کمول او د کانونو استخراج، توليدي او خدماتي سکتورونو ته وده ورکول کولای شي يو مقاومت لرونکی اقتصاد رامنځته کړي.

**۵.سوداګري او سيمه‌ييزه همکاري:**

له ګاونډيو هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو ښه کول او سيمه‌ييزه اقتصادي همکاري کولای شي د افغاني توکو لپاره نوي بازارونه پيدا او پانګونه راجلب کړي.

**٦.په روغتيايي سکتور کې پانګونه:**

د روغتيايي خدماتو ښه کول او د ناروغيو کچه راټيټول کولای شي د کاري ځواک توليدي وړتيا زياته کړي او اقتصادي وده رامنځته کړي.

**۷. د حکومتولۍ پياوړتيا او د فساد کمول:**

د اداري جوړښت پياوړي کول، حقوقي چوکاټ ښه کول او د فســاد مخنيوی کولای شي يو ښه ســوداګريز چاپېريال رامنځته کړي او بهرني پانګوال راجلب کړي.

**۸. د بانکدارۍ سکټور پراختيا:**

د بانکدارۍ سکټور پراختيا او د مايکروفايننس چارو برابرول کــولای شي د کوچنيو او منځنيو تشــبثاتو (SMEs) ملاتړ وکړي چــې دا د کارموندنې او اقتصــادي ودې لپاره خورا مهمې دي.

**۹. له طبيعي سرچينو څخه ګټه اخيستنه:**

افغانستان د طبيعي سرچينو له پلوه بډای هېواد دی. که دغه سرچينې په مسووﻻنه توګه وکارول شي، دوامداره استخراج او مديريت يې کولای شي اقتصاد ته ډېره ګټه ورسوي.

**۱۱. د ګرځندوی صنعت وده:**

د افغانستان د تاريخي او کلتوري سيمو په اړه معلومات ارايه کول کولای شي زيات شمېر سيلانيان جذب کړي، چې دا به د GDP وده او کارموندنې کې مرسته وکړي.

د يوې داسې ستراتيژۍ پلي کول چې په دې عواملو مشتمله وي کولای شي په دوامدار ډول د افغانستان اقتصادي وده لوړه او د خلکو د ژوند سطحه ښه کړي.

**پايله**

پــه هېواد کې په ســمه بڼه د ملي عوايـــدو را ټولول، د کانونـــو د اســـتخراج او د هېواد په طبيعـــي زېرمو کې پانګونې هڅې، کورني صنعت او ملي توليداتو ته پاملرنه، له ګاونډيو هېوادونو سره پر مثبتو اقتصادي اړيکو تمرکز، ملي پروژو او زېربناوو ته پاملرنه هغه اقدامات دي چې د اســلامي امارت له خوا عملي شــوي او له شک پرته د کورني ناخالص توليد د لوړېدو لامل شوي دي. دا ټول د افغانســتان د اقتصادي وضعيت په ښــه کولو کې خورا مثبــت او دوامداره رول لــري او د هېــواد د اقتصادي پياوړتيا لــه پاره لاره هواروي. که څه هم د افغانســتان اقتصــاد لاهــم کمــزوری دی، خو د اســلامي امارت اقتصادي پاليسي تر ډېره حده برياﻟۍ ده، که همداســې دوام ورکړل شي، نو له شــک پرته به يــې نورې مثبتې پايلې هم را څرګندې شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۷,۸۵؋ | ۶۷,۹۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳۴؋ | ۲۳۴؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۳؋ | ۱,۲۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۴,۴۳؋ | ۷۴,۴۹؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۷۱؋ | ۰,۷۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۰۸؋ | ۸۰۹؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۸۸,۹۷؋ | ۸۹,۰٤؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۰۶؋ | ۱۸,۰۸؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,٤۷؋ | ۱۸,٤۹؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۶۷؋ | ۹,۶۷؋ |

